نورمحمد غفوري

۲۰۱۶/۰۲/۱۷

د لارې ملګري ته

ما خبر کړې چې په لاره کې سختي ده
له ځنګلونو، لوړو غرونو تیره شوې
خپل هدف مې هم واضح درته اعلان کړ
پرمختګ او پـــــه شاتګ مبارزه کې
دغه پوهه او عالي مهارت غواړي
د ا د څو ورځو منزل نه دی ملګریه
پـــه دې سخته او اوږده لاره سفر ته
چې په دې لاره تیر شوي کوم ځوانان دي
د سختیو قربانیو پـــــــــه قیمت ده
موږ کفن پـــه سر تړلی دی روان یو
لار که ډکه له سختیو ده باک نشته
د کـــــارګرو او د هقان د ارمانونو
څوک چې موږ سره په لار مخالفت کړي
اوس که ځې راسره کلک لاسونه راکړه
په جرئت او متانت چې څوک قدم ږدي

ډېر پیچومي شته پاڼونه ګړنګي ده
هر یو ډک له درنده وو نه وحشي ده
ویل مې سخته ده جګړه د ترفي ده
بس بریا د پرمختګ پرې تاریخي ده
پـــــه معین اصل او نظم متکي ده
لار اوږده ده او اغزنه صحرایي ده
ضـــرورت د ډېر قوت او انرژي ده
یا قربان یا یې صورت زخمي زخمي ده
ستر سفر د انسانیت او خوشبختي ده
یا به مرو یا په نصیب مو پیروزي ده
مقدسه ده د ژوند خواسته عیني ده
بـــــله لار نشته همدا د کامیابي ده
په جریان کې د تاریخ یې بربادي ده
پښیماني او په شاتګ بیا بې ننګي ده
په سنجش چې وړاندې ځې قهرماني ده

که ځان بایلو نو په ځان به ځان یوازې بایلو
کامیابي مـــو جامعې تـــــــه سوکالي ده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ